BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# لوست

ماشوم لومړي ځل خپلواک لوست کول ملاتړ کړئ

- تاسې څنګه کولی شئ د خپل

- تاسې څنګه کولی شئ د خپل ماشوم لومړي ځل خپلواک لوست کول ملاتړ کړئ

## د ماشوم د لوست مهارتونو وده

ستاسې ماشوم بېلابېل ستراتیژیاني کاروي چې دې پوړې اړه لري ستاسې ماشوم د لوست کولو مهارتونو کې څومره لیرې دی. په پیل کې، ماشوم ډېری ځله په کتاب کې او صحنه کې د عکسونو له مخې ډېری ټکي په یاد ساتي او په اړه یې فکر کوي.

ماشوم په ترتیب سره د ټکي لومړي حرف/غږ سره خپل حدس یا اټکل پرتله کوي. لدې وروسته بیا هغه د حروفونو د ټولو غږونو کارول پیل کوي او دا ټکو ته راټولوي. په تدریج سره د ماشوم لوست خودکار کیږي او روانیږي.




## د کتاب سطح

هغه کتابونه چې ستاسې ماشوم یې لولي باید ستاسې د ماشوم د لوست سطحې سره سمون ولري. ستاسې ماشوم باید وکولی شي چې ډېر ټکي پخپله ولولي. که تاسې احساس وکړئ چې متن خورا سخت دی، نو تاسې یې باید په لوړ غږ ولولئ. وروسته بیا ماشوم پخپله کولی شي د متن لوستلو هڅه وکړي. کله چې تاسې لوست کوئ او ټکو ته ګوته ونیسئ نو دا ستاسې ماشوم لپاره ملاتړ کیدی شي.




## د خپل ماشوم د ټکو لوستل ملاتړ کړئ

کله چې داسې ټکي شتون ولري چې ستاسې ماشوم یې نشي لوستلې نو تاسې کولی شئ له لاندې لارو خپل ماشوم ملاتړ کړئ:

- ماشوم پرېږدئ د عکسونو یا مینځپانګې له مخې اټکل وکړي
- خپل ماشوم تشویق کړئ چې د ټکي لومړی حرف/غږ ووایي
- د ټکي لومړي حروف/غږونه وواياست
- ټکی خپل ماشوم ته په لوړ غږ ولولئ.

د اساساتو په توګه، تاسې باید خپل ماشوم لوست اصلاح نکړئ که چیرې هغه غلط یا ناسم لوست کوي غیرلدې که چیرې د هغه څه په پوهیدو باندې اغیزه ولري څه چې لوستل کیږي. کله چې ستاسې ماشوم د متن لوستل پای ته ورسوي، تاسې کولی شئ بیرته د هغه ځخه یو یا دوه ټکو په اړه پوښتنه وکړئ.

## خپل ماشوم د لوست کولو لیواله کړئ

هرڅومره ډېره لیوالتیا چې ستاسې ماشوم د لوست کولو سره ولري، هغه به هغومره ښه لوستونکی شي. ستاسې ماشوم به هغه مهال لوست کول وغواړي چې هغه ستاسې علاقه او تشویق تجربه کړي.

تاسې کولی شئ د لاندې خبرو په کولو سره خپل ماشوم تشویق کړئ:

- زه وینم چې ته تمرین کوې او لوستل دې ښه شوي دي
- زه وینم چې ته پخپله د سختو ټکو لوستلو هڅه کوې
- زه په تمه یم چې دواړه بیا په ګډه یوځای لوست وکړو

مهمه خبره دا ده چې ستاسې ماشوم تمرین وکړي او په خوشحالۍ لوست وکړي.